# په حقيقت کې الله تعالی ستاسو لپاره درې شيان خوښوي او درې شيان نه خوښوي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «په حقيقت کې الله تعالی ستاسو لپاره درې شيان خوښوي او درې شيان نه خوښوي نو کوم يې چې خوښ دي دا دي چې تاسو يې عبادت وکړئ، هېڅ شی ورسره شريک نه کړئ او ټول د الله رس کلکه ونيسئ او سره جلا نه شئ، او هغه چې نه يې خوښوي: تا ويلي ما ويلي، زياتې پوښتنې کول او بې ځايه پېسې لګول دي».
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي چې الله تعالی د خپلو بندګانو درې خويونه خوښوي او درې بد ګڼي، نو هغه چې خوښ يې دي دا دي چې: دوی يې په يووالي ومني او هېڅ شی ورسره شريک نه کړي، او دا چې د الله په ژمنه، قرآن او د هغه د نبي په سنت پدې ټولو کلکې منګولې ولګوي او د مسلمانانو له ډلې جلا نه شي. او هغه چې بد يې ګڼي: بې ګټې او د هغه څه په اړه ډېرې خبرې کول چې دوی پورې اړه نلري، د هغه څه په اړه پوښتنه کول چې پېښ شوي ندي، له خلکو څخه پيسې او هغه څه غوښتل چې د دوی ملکيت وي، او له اړتيا پرته غوښتنه، د پېسو ضايع کول او له روا موخو پرته يې په نورو لارو کې مصرفول او دا چې (خپل مال) له خطر سره مخ کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66236

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee